قرآني بيان

## په عبادت کښې د شپې رڼولو

# فضائل

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمامِ مساجد (دعوتِ اسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

د جُمعهُ المبارک

07 March 2025



د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 7 مارچ، کال 2025ء ( متوقع اِسلامي تاریخ: 6 رَمَضَانُ المُبَارَک، کال 1446ھ) د جُمعةُ المبارک

قرآني بیان

پهٔ نوم

# په عبادت کښي د شپې روڼولو فضائل

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- زهٔ کله د راتللو قابل ووم---!!
- د کامِل اِیمان والؤ جزا
- د جنَّت د اوچتې مرتبې والا اِنسان
- د اللّٰه والؤ په عبادت کښي د شپو روڼول

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة (اسلامِک ریسرچ سنټر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

﴿تجاویز و شکایات﴾

+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ؕ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت وكړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د حضرت ابو درداء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چا چې سحر او ماښام په ما باندې 10، 10 كرته درودِ پاک ولوستلو د قيامت په ورځ باندې به زما شفاعت د هغهٔ نصيب كيږي-[1]

جس کے ماتھے شفاعت کا سہرا رہا | اُس جَبینِ سَعادت پہ لاکھوں سلام

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

الله پاک جَلَّ شَانُهٗ فرمائي:

تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَّ طَمَعًا ۫ وَّ مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿۱۶﴾ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّاۤ اُخْفِيَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۷﴾
(پاره :21 ، سورۀ سجده: 16–17)

ترجمهٔ كنزُ العِرفان: د هغوئي ډډې د هغوئي د بسترو نه جُدا اوسي او هغوئي په ويره او په اُميد خپل رب يادوي او زمونږه د وركړے شوي [مال] نه خيرات كوي- نو يو كس ته هم نهٔ دے معلوم هٗغه د ستركو يخوالے كوم چې د هغوئي د پاره د هغوئي د اعمالو په بدله كښې پټ ساتلے شوے دے-

[1]... الترغيب والترهيب، كتاب: النوافل، صفحه:223، حديث :19-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږه د 21 سيپارې، د سورۀ سجده د دوو آيتونو (آيت: 16 او 17) د اوريدو سعادت حاصل کړو- سُورۀ سَجدَه د قرآنِ کريم پۀ مکي سُورتونو کښې يو مختصر سُورت دے ❀ پۀ دې کښې درې رکوع او 30 آيتونه دي ❀ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هره شپه د اوده کيدو نه مخکښې د **سُورَۀ سَجدَه** او د **سُورَۀ مُلک** تلاوت فرمائيلو ❀ حضرت خالد بن معدان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: نجات ورکوونکے سُورت لولئ او هغۀ سُورت **الٓمّ تَنزِيلُ** (يعني سورۀ سجده) دے- بيا فرمائي: ما ته دا حديث رارسيدلے دے چې يو کَس به صِرف د دې سورت تِلاوت کولو، چې کله هغۀ وفات شو نو دې مُبارک سُورت د هغۀ سفارش وکړو او د الله پاک پۀ بارګاه کښې يې عرض وکړو: اے زما رَبِّ کريمه! د دۀ مغفرت وکړې ځکه چې دۀ به پۀ کثرت سره زما تِلاوت کولو- الله پاک د هغه بنده پۀ حق کښې د سورۀ سجده شفاعت قبول کړو او د هغۀ ګناهونه يې پۀ نيکو کښې بدل کړل او د هغۀ درجے يې اوچتې کړلې- [1]

سُبْحٰنَ الله! خومره د برکت والا سُورت دے، مونږه د دې مبارک سُورت د دوو آيتونو (آيت: 16 او 17) د اوريدو سعادت حاصل کړو- پۀ دې دواړو آيتونو کښې د کامِل ايمان والؤ دوه پاک عادتونه او دوه مبارک حالتونه بيان کړے شول او دا ووئيلے شو چې د کوم خوش قِسمته چې دا پاک عادتونه او حالتونه نصيب شي نو د هغۀ د پاره پۀ اخرت کښې انعامونه تيار کړے شوي دي-

## (1): وړومبے پاک عادَت: په عبادت کښې شپې رونړول

الله پاک فرمائي:

| ترجمهٔ کنزُ العِرفان | |
|---|---|
| ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د هغوئي ډډې د هغوئي د بسترو نه جُدا اوسي- | تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ (پاره: 21، سورۀ سجده: 1716) |

[1] ... دارمی، کتاب فضائل القرآن، باب فی فضل سورة تنزيل السجدة، صفحه: 1033، حديث: 3409-

دا د کامِلِ ایمان والؤ وړومبے پاک عادَت دے چې د هغوئي ملاګانې د بسترو نه جُدا وي- مطلب دا چې د کامِلِ ایمان والا د نـمونځ سره محبت کوونکي وي او د نـمونځ کولو په خاطِر د شپې نۀ اوده کیږي بلکې نـمونځونه کوي- (1)

دا نـمونځ د کوم په خاطِر چې ایمان والا د شپې نۀ اوده کیږي، د دې نه کوم یو نـمونځ مُراد دے؟ په دې باره کښې د مفسرینِ کرامو مختلف اقوال دي: ❀ یو قول دا دے چې صحابۀ کرامو عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان چې به د ماښام نـمونځ وکړو نو کورونو ته به نۀ تلل بلکې هُم په جومات کښې به پاتې کیدل او نفلونه به یې کول او د ماسخوتن نـمونځ چې به یې وکړو نو کورونو ته به لاړل - د دوئي په باره کښې ارشاد وشو:

| | |
|---|---|
| تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ<br>(پاره:21 ، سورۀ سجده:16) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د هغوئي ډډې د هغوئي د بسترو نه جُدا اوسي- |

❀ یو قول دا دے چې صحابۀ کرامو عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان به تهجد ادا کول، د هغوئي په باره کښې اِرشاد وشو چې دا کامِلِ ایمان والا دي، د دوئي شان دا دے چې د نـمونځ په محبت کښې بستره پریږدي او د شپې راپاڅي او نـمونځونه ادا کوي- (2)

## (2): دویم پاک عادَت: د الله پاک په لار کښې خرچ کول

د دې کامِلِ ایمان والؤ د دویم پاک عادت په بیانولو الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَّ مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ یُنْفِقُوْنَ ﴿۱۶﴾<br>(پاره:21 ، سورۀ سجده:16) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او زمونږه د ورکړے شوي [مال] نه خیرات کوي- |

خومره ښکلې خبره ده ❀ دا کامِلِ ایمان والا ارام خوښوونکي نۀ دي ❀ سستي نۀ کوي ❀ د شپې راپاڅي او عبادت کوي ❀ او ورسره ورسره د دوئي په زړونو کښې د

1 ...تفسیر طبری، پاره:21، سورۀ سجده، زیر آیت:16، جلد:10، صفحه:238۔
2 ...تفسیر طبری، پاره:21، سورۀ سجده، زیر آیت:16، جلد:10، صفحه:239 خلاصةً۔

مال محبت، حرص او لالچ هم نشته، د الله پاک په لاره کښې د زړۀ د اِخلاصه خرچ هم کوي، لکه چې د دوئي زړونه د الله پاک د محبت نه هم ډک دي ❁ او ورسره ورسره د الله پاک د مخلوق سره هم محبت کوي، وږي مړوي، د غريبانانو مدد کوي او د بے وسو ملاتړ کوي۔

## دوه مبارک حالتونه

دا د کامِل ايمان والؤ دوه پاک عادتونه دي: (1): پۀ عبادت کښې شپه رونړول (2): د الله پاک پۀ لار کښې خرچ کول۔ د دې سره سره د هغوئي مبارکو حالاتو ته هم وګورئ چې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| يَدۡعُوۡنَ رَبَّهُمۡ خَوۡفًا وَّ طَمَعًا ۫ (پاره:21 ، سورۂ سجده:16) | ترجمۂ کنزُ العِرفان: او هغوئي پۀ ويره او پۀ اُميد سره خپل رب يادوي۔ |

زمونږه حال داسې دے چې کله سخاوت وکړو نو پۀ ځان خوشې کښې اخته شو، پۀ زړۀ کښې تکبر شروع کړو چې وګوره! زۀ څومره سخي يم، ما دومره مال د الله پاک پۀ لار کښې خرچ کړو او که چرې د تهجدو کولو سعادت ميلاؤ شي، نو بيا خو سَم پۀ هوا يُو، يو څو نفلونه چې وکړو نو ځان لوئي وَلي او نيک انسان ګڼل شروع کړو خو د کامِل ايمان والؤ نااشنا شان دے، د هغوئي شپې پۀ عبادت کښې تيريږي، هر سعت نيکئ کوي، د الله پاک پۀ لاره کښې د زړۀ د اِخلاصه د خرچ کولو عادت لري، د دې باوجود يې د زړۀ حالت څۀ وي؟ فرمائي:

| | |
|---|---|
| خَوۡفًا وَّ طَمَعًا (پاره:21 ، سورۂ سجده:16) | ترجمۂ کنزُ العِرفان: ويريږي او اُميد لري۔ |

راتيں زاری کر کر روندے، نيندا اکھيں دِی دھوندے
فجريں اوگنہار کہاندے سب تھيں نيويں ہوندے

وضاحت: يعنې دا الله والا دي، د دوئي شپې د الله پاک پۀ ويره کښې پۀ ژړا، فرياد او

زارۍ تیریږي، د کوم په سبب چې د دوئي خوبونه تښتي، د دې باوجود چې کله سحر شي نو د خلقو په مخکښې خپل ځان د تېولو نه ګنهګار ګڼي-

دا د اللّٰه والؤ شان دے، دا د کامِل ایمان والؤ شان دے چې د هغوئي زړونه د اللّٰه پاک د ویرې او د رحمت د اُمید نه ډک وي، اللّٰه پاک قهّار دے، په دې سوچ سره د هغوئي زړونه ویریږي بیا په دې سوچ کولو چې هغهٔ رحمان هم دے، اُمید یې پیدا شي، دوئي لړزیږي چې آه! چرته دا ګنده وجود او چرته د رَبِّ کائنات اوچته بارګاه، زهٔ به په هغې بارګاه کښې حاضري څنګه کووم، بیا ورسره ورسره اُمید هم پیدا کیږي چې د دې دَر نه بیرته وګرځو نو چرته به ځو---!!

جو ہیبت سے رُکے مُجرِم تو رحمت نے کہا بڑھ کر | چلے آؤ! چلے آؤ! یہ گھر رحمٰن کا گھر ہے

دا د اللّٰه پاک نیکان بندګان، دا کامِل ایمان والا په خپلو نیکو باندې تکبر نهٔ کوي، په ځان خوښې کښې نهٔ اخته کیږي، غرور او تکبر نهٔ کوي بلکې خپل رَبّ ته فریاد کوي د ویرې او رغبت سره- د دوئي زړونه د ویرې او اُمید ترمینځه وي-

## زهٔ د راتللو قابل چرته ووم---!!

حضرت ذُو النُّون مِصري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه چې به کله د نمونځ نیت کولو نو د اللّٰه پاک په بارګاه کښې به یې عرض کولو: مولیٰ: هٔغه کومې ښپې دي، په کومو باندې چې درشم او ستا په حُضُور کښې حاضر شم؟ هٔغه کومې سترګې دي په کومې چې د قبلې طرف ته نظر وکړم؟ هٔغه کومه ژبه ده په کومه چې ستا ذِکر وکړم؟ (نهٔ ښپې د دې لائقې دي چې ستا طرف ته درشم، نهٔ ژبه د دې لائقه ده چې ستا ذِکر پرې وکړم، نهٔ وجود د دې لائق دے چې ستا په حُضُور کښې ودریږم خو څهٔ وکړم د دې دَر حاضري پریښودے هم نشم)، چې څنګه یم ستا په حُضُور کښې حاضریږم- (1)

1 ...تذکرۃ الاولیاء، صفحه:95 خلاصةً۔

| | |
|---|---|
| میں نے مانا کہ سب سے بُرا ہوں | کس کا ہوں؟ تیرا ہوں میں تیرا ہوں |
| ناز رحمت پہ مجھ کو بڑا ہے | یاخُدا تجھ سے میری دُعا ہے |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د کامِل اِيمان والؤ جزا

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا د کامِل اِيمان والؤ څلور خبرې دي، دوه د هغوئي پاک عادتونه چې **(1)**: دوئي شپې روڼوي ، د شپې نـمونځونه کوي **(2)**: د الله پاک په لار کښې خرچ کوي- او دوه د دوئي پاک حالتونه دي چې **(3)**: دوئي د الله پاک نه ويرېږي **(4)**: او د هغۀ د رحمت نه اُميد هم ساتي- د دې کامِل ايمان والؤ اِنعام څۀ دے؟ الله پاک فرمائي:

فَلَا تَعۡلَمُ نَفۡسٌ مَّآ اُخۡفِیَ لَهُمۡ مِّنۡ قُرَّةِ اَعۡیُنٍ ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوۡا یَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۷﴾

(پاره:21 ، سورۀ سجده:17)

**ترجمهٔ کنزُ العِرفان:** نو يو کس ته هم نۀ دے معلوم هُغه د سترګو يخوالے کوم چې د هغوئي د پاره د هغوئي د اعمالو په بدله کښې پټ ساتلے شوے دے-

يعنې د دې سخيانو، نيکانو، د شپې عبادت کوونکو ايمان والؤ د پاره د جنَّت داسې نعمتونه تيار کړے شوي دي کوم چې يوې سترګې نۀ دي ليدلي، نۀ چا ته د دې نعمتونو تفصيلي عِلم دے- د **بخاري شريف** په حديثِ پاک کښې دي، الله پاک فرمائي: اَعۡدَدۡتُ لِعِبَادِیَ الصَّالِحِیۡنَ مَا لَا عَیۡنٌ رَاَتۡ، وَلَا اُذُنٌ سَمِعَتۡ وَلَا خَطَرَ عَلٰی قَلۡبِ بَشَرٍ يعنې ما د خپلو نيکانو بندګانو د پاره هُغه نعمتونه تيار کړي دي کوم چې نۀ يوې سترګې ليدلي، نۀ يو غوږ د هغې ذِکر اوريدلے، نۀ په يو زړۀ کښې د هغې خيال تير شوے دے-[(1)]

---

[1] ... بخاری، کتاب التفسیر، باب فلا تعلم نفس ما اخفی لهم، صفحه:1215، حدیث:4779-

# د جنَّت اوچته مرتبه

پهٔ يو حديثِ پاک کښې دي: د اللّٰه پاک نبي حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د اللّٰه پاک پهٔ بارګاه کښې عرض وکړو: پهٔ جنَّت کښې به د ټولو نه د کمې مرتبے والا څوک وي؟ اللّٰه پاک وفرمائيل: چې کله ټول جنَّتيان جنَّت ته لاړ شي نو يو کَس به راوستے شي، هغهٔ ته به حکم وشي: جنَّت ته ځا! هغهٔ به وائي: اے رَبِّ کريمه! څنګه لاړ شم، جنَّت خو ډَک شوے دے، ټول پهٔ خپلو خپلو منزلونو کښې دي- هغهٔ ته به ووئيلے شي: آيا تهٔ پهٔ دې باندې راضي يې چې تا ته د دُنيا د يو بادشاه د ملکيت برابر جنَّت ميلاؤ شي؟ هغهٔ به وائي: آؤ! زما مولیٰ! زهٔ پهٔ دې باندې راضي يم، هغهٔ ته به ووئيلے شي: ستا د پاره د هغې نه لس چنده زيات جنَّت دے او ستا د پاره هر هغه نعمت دے د کوم چې تهٔ خواهش کوې- دا به د ټولو نه ادنیٰ جنَّتي وي- حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام دويمه پوښتنه عرض کړه: د ټولو نه د اوچتې مرتبے والا جنَّتي به څوک وي؟ اللّٰه پاک وفرمائيل: اے موسیٰ! دا هغه خلق دي چې د دوئي نعمتونه ما پهٔ خپل دستِ قدرت باندې جوړ کړل، پهٔ دوئي باندې مې نعمت مکمل کړو، د دوئي د پاره هغه نعمتونه دي کوم چې نهٔ يوې سترګې ليدلي، نهٔ يو غوږ د دې ذِکر اوريدلے، نهٔ د يو اِنسان پهٔ زړهٔ کښې د دې خيال تير شوے-[1]

سُبْحٰنَ الله! **خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** څلور کارونه دي: (1): د شپې عبادت کول (2): د اللّٰه پاک پهٔ لاره کښې خرچ کول (3): د اللّٰه پاک نه ويره او (4): د رحمت اُميد- د کامِل اِيمان والؤ دا څلور خبرې دي، پهٔ دې باندې به هغوئي ته کوم کوم عظيم انعامونه عطا کولے شي---!! کاش چې مونږه هم د دې نيک کارونو کولو والا جوړ شو-

ہر گُنہ سے بچا مجھ کو مولیٰ | نیک خصلت بنا مجھ کو مولیٰ
تجھ کو رمضان کا واسطہ ہے | یاخُدا تجھ سے میری دُعا ہے

1 … مسلم، کتاب الایمان، باب ادنی اہل الجنة منزلة فیھا، صفحه:92، حدیث:189 ملتقطاً۔

فضل کر رحم کر تُو عطا کر اور معاف اے خُدا ہر خطا کر
واسطہ پنجتن پاک کا ہے یاخُدا تجھ سے میری دُعا ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (2-1): د رَمَضَانُ المُبَارَک مياشت او وِيره او اُميد

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د رَمَضَانُ المُبَارَک مقدسه مياشت ده، د کامِل ايمان والؤ د دې خلورو صفتونو اختيارولو بهترين موسم دے د رمضان ټوله مياشت د ويرې او د اُميد په حالت کښې تيره کړئ، چې د روژه ماتي وخت وي نو زړۀ مو درزيږي چې ټوله ورځ خو مې روژه ونيوله او لوږه تنده مې برداشت کړه، آه! پته نۀ لګي چې زما روژه به قبوله شوې هم وي که نۀ، ورسره پۀ سترګو کښې د اُميد رڼا هم وي چې الله پاک رحمان دے، هغۀ د چا محنت نۀ ضائع کوي، زما روژه به هم ضرور قبوله کړي د شپې چې تراويح وکړو نو چې پۀ زړۀ کښې مو ويره وي او ورسره د رحمت اميد هم وي پۀ پيشمني کښې چې راپاڅو، تهجد وکړو نو ويره وي راسره چې پته نۀ لګي چې نن د پيشمني پۀ وخت به پۀ بخښلے شوو کښې زما نوم هم وي که نۀ، ورسره د رحمت اُميد پۀ زړۀ کښې هم وي چې الله پاک رحمان دے، خپل ګنهګاران بندګان بخښي- غرض دا چې ټوله د روژې مياشت هم پۀ ويره او اُميد کښې تيره شي، پۀ سعت سعت کښې راسره دا ويره وي چې پته نۀ لګي چې پۀ دې رمضان کښې به زۀ اوبخښلے شم که نۀ، ورسره د رحمت اُميد هم وي چې زما مالِک کريم دے، ډير بے نيازه دے وه به مې بخښي-

میں رحمت، مغفرت، دوزخ سے آزادی کا سائل ہوں
مہِ رمضان کے صدقے میں فرمادے کرم مولیٰ

## (3): د روژې مياشت او سخاوت

هُم داسې د روژې مياشت د الله پاک پۀ لاره کښې د ښه ډير خرچ کولو مياشت ده-

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سخیانو سخي دے، د هغوئي د سخاوت اندازه څوک لګولے شي، د دې دَر د سخاوت نه ټوله زمانه فیض حاصلوي، د دې باوجود په عامو ورځو کښې هم د هغوئي د سخاوت څۀ انتها نشته، د روژې په میاشت کښې به د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سخاوت دریاب نور هم په موجونو شو-

**کاش!** چې مونږه هم د روژې په میاشت کښې د کامِل ایمان والؤ دا صفت اختیار کړو، ښه ډیر سخاوت وکړو، ښه د زړۀ د اِخلاصه د خُدائے په لار کښې خرچ کړو- **ځکه**کښې چې مو څومره د الله پاک په لار کښې خرچ کولې، په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې د هغې نه ډیر خرچ کړو، زمونږه په معاشره کښې د غریبانانو کمے نشته، څومره یتیمانان، مسکینان، غریبان خلق به وي د کومو پیشمني او روژه ماتي چې به په اوبو باندې کیږي، کیدے شي چې د کجورو د اخستو وَس هم نۀ لري، بیا د رَمَضَانُ الْمُبَارَک نه پس اختر هم تشریف راوړي، غریبانان به په ښه طریقه باندې روژې ونیولے شي، په پیشمني او روژه ماتي کښې د هغوئي هم دسترخوان ډک شي، هغوئي ته هم د الله پاک د پیدا کړے شوو نعمتونو د خوړلو موقع میلاؤ شي، بیا به یـې اختر هم په ښه طریقه تیر شي، ځکه د روژې په میاشت کښې ښه د زړۀ د اِخلاصه صدقه او خیرات کول پکار دي-

د خپلو خپلوانو سره ښۀ سلوک وکړئ، د هغوئي حاجتونه پوره کول هم ښه سلوک دے ❁ خپل زکوٰۃ ❁ فطرانه [یعني سرسایه] هُم د اوس نه غریبانانو له ورکړئ ❁ هغوئي له راشن ورکړئ ❁ د خوراک سامان ورکړئ ❁ کور کور ته لاړ شئ او هغوئي له غلۀ دانه مثلاً وریژې، غنم، دالونه او نعد پیسي ورکړئ ❁ د هغوئي د روژه ماتي انتظام وکړئ-

شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه مونږ له څومره ښکلے سوچ راکړے دے چې په جوماتونو کښې د روژه ماتو کولو سره سره مونږه د غریبانانو کورونو ته هم د روژه ماتي سامان یا راشن ورسوو چې کوم مشران، بیماران، ماشومان جوماتونو ته نشي راتللے هغوئي ته هم اساني وي او د هغوئي زړونه هم خوشحاله وي- الله پاک دې مونږ ته د خُدائے

پهٔ لاره کښې د زړهٔ د اِخلاصه د خرچ کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

## د مَدَني عطياتو ترغيب

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! ستاسو خپل دِيني تحريک دعوتِ اِسلامي دا وخت د اتياؤ [80] نه پهٔ زياتو شعبو کښې د دِين خدمت کوي اَلْحَمْدُلِلّٰه! ❁ د کنزُ الـمدارس بورډ پهٔ نوم د دعوتِ اِسلامي خپل تعلمي بورډ دے ❁ تقريباً د 16500 نه زيات جامعات او مدارسُ الـمدينه د هلکانو او جينکو (Boys & Girls) ماشومانو د پاره قائم دي، پهٔ کومو کښې چې د حفظ او ناظرې، عالِم کورس (درسِ نظامي)، مختلف تَخصُّصَات (Specialization)، فرض علوم کورسز کولے شي ❁ د جامعات او مدارسُ الـمدينه (بوائز اينډ ګرلز) د طالبِ علمانو شميره څه کم يا زياته 5 لاکهه 30 زره ده ❁ د زيات عمر اِسلامي وروڼو او خوئيندو ته د قرآنِ کريم تعليم ورکولو د پاره اوسه پورې تقريباً د 74 زره 887 مدارس الـمدينه بالغان او بالغات جوړ کړے شوي دي پهٔ کومو کښې چې د لوستونکو شميره د 4 لاکهه 26 زره نه زياته ده ❁ د فيضان آن لائن اکيډمی پهٔ ذريعه تقريباً 24 زره طالبِ علمان ديني تعليم حاصلوي ❁ اوسه پورې تقريباً 21 دار الافتاء اهلسنت جوړ کړے شوي دي پهٔ کومو کښې چې د شرعي رهنمايو شميره د مياشتې اوسطاً 20 زره ده ❁ د الـمدينةُ العلميه (Islamic Research Center) پهٔ ذريعه پهٔ ديني لټريچر باندې تحقيقي کار کيږي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دې شعبے لاندې اوسه پورې پهٔ 1784 کتابونو او رسالو باندې کار شوے دے، پهٔ دې شعبه کښې ګڼ شمير مَدَني علمائے کرام فريضې ترسره کوي، د الله پاک پهٔ کرم سره دعوتِ اِسلامي دې مَدَني علمائے کرامو ته باقاعده تنخواګاني ورکوي ❁ د ديني لټريچر چاپ کولو د پاره دعوتِ اِسلامي خپله اشاعتي اداره مکتبة الـمدينه جوړه کړې ده، چرته چې پهٔ بهترين او ښکلي انداز کښې کتابونه چاپ کولے شي، د تقسيمِ رسائل (يعني د مختلفو کتابونو او رسالو مفت تقسيم کولو) سلسله هم وي ❁ پهٔ ټوله دُنيا

کښې د ديني کارونو کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي پوره تنظمي سيټ اپ دے، د ذيلي حلقے نه واخله تر مرکزي مجلسِ شُوریٰ پورې يو نظام جوړ دے، ښار په ښار، کلي په کلي ذمه داران موجود دي ❁ د عاشقانِ رسول تربيت کولے شي او دوئي د ديني کارونو د پاره ملک او بهر ملکونو ته ليږلے شي، دوئي ته باقاعده تنخواګاني ورکولے شي او هغوئي فَارِغُ البَال (يعنې د ګټې نه بے پروا) کيدو سره د دِين خدمت کوي ❁ د ميډيا مختلف پليټ فارمز، مثلاً ❁ پرنټ ميډيا (يعنې ماهنامه فيضانِ مدينه کومه چې دا وخت په 7 **مختلفو ژبو کښې** چاپ کيدونکې کثير الاشاعت مياشتنی [يعنې ماهنامه] ده ددي په ذريعه) ❁سوشل ميډيا (مثلاً، يوټيوب (***YouTube***)، فيس بک (***Facebook***)، انسټاګرام (***Instagram***) وغيره باندې موجود تقريباً **100 اکاؤنټ**، په کومو باندې چې تقريباً **50 مليَنه** (***Million***) يعنې **5 کروړه** فالورز (***Followers***) او سبسکرائبرز (***Subscribers***) دي)- ❁ او د مَدَني چينل اُردو، انګلش، بنګله ژبو کښې، کِډز (***Kids***) مَدَني چينل، د مشرانو د پاره مَدَني چينل او د عربی د ويب چينل په ذريعه د دِين اِسلام خدمت کولے شي ❁ د آئي ټي شعبے د طرف نه اوسه پورې **32 موبائل اپيلي کيشن او 40 اِسلامک ويب سائټس** جوړ کړے شوي دي ❁ په ټوله دُنيا کښې د مسلمانانو د خير خواهی د پاره د ايف جي آر ايف (***Faizan Global Relief foundation***) شعبه جوړه ده، د کومې د لاندې چې ❁ **34 لاکهه 16 زره 673** وَني نالې کړے شوې دي ❁ تقريباً د **76 لاکهه 82 زره 958** ګسانو امداد شوے دے ❁ **5 زره 566** کوروُنه جوړ کړے شوي دي ❁ **75 زره 721** د وينې ډراپونه عطيه کړے شوي دي ❁ هيلتھ کئير سنټر ته اوسه پورې د **61 زره 667** مريضان راغلي دي-

د دې ټولو او د نورو دِيني کارونو جاري ساتلو د پاره د دعوتِ اِسلامي په کروړونو خرچې دي، د دې خرچو د پوره کولو د پاره تاسو هم د دين د خِدمت په دې کار کښې خپله حصه شامِله کړئ! خپل عطيات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده په هر قِسمه جائز، ديني، اِصلاحي، فلاحي، روحاني او د خير ښيګړې په کارونو کښې لګيدے شي چې

زياتيدونکې خرچې پوره کړے شي۔

دعوتِ اسلامی کی قیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم
اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یااللہ! مری جھولی بھر دے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## (4): د رَمَضَانُ المُبَارَک مياشت او په عبادت کښې شپې روڼول

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د کامِل ايمان والؤ خلورم صفت دے **په عبادت کښې شپې روڼول**- پۀ عامو ورځو کښې هم مونږ له په عبادت کښې دشپې روڼولو کوشش کول پکار دي، اوس خو بيا هم لا د روژې مياشت ده! د نيکو مياشت ده، اوس که هم شپه پۀ ويده نۀ تيروؤ او عبادت او رياضت نۀ کوؤ نو بله به کومه داسې موقع وي؟ کله به د شپې عبادت کوؤ؟

## په عبادت کښې د شپې روڼولو فضائل

❁ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي:اے خلقو! سلام عام کړئ! پۀ خلقوباندې خوراک وکړئ! او چې **کله خلق اوده وي نو نـمونځ کوئ!** تاسو به د سلامتيا سره جنَّت ته داخل شئ۔ [1] ❁ پۀ يو حديثِ پاک کښې دي: زما د اُمَّت د زيات شرف والا خلق د قرآن والا او اَصحابُ اللَّيل (يعني د شپې عبادتونه کوونکي) دي۔ [2]

❁ پۀ حديثِ پاک کښې دي: څغه دوه رکعتونه کوم چې بنده د نيمې شپې ادا کوي، د هغۀ د پاره د دُنيا وما فيها (دُنيا او څۀ چې پۀ دې دُنيا کښې دي) نه بهتر دي، که ما دا پۀ خپل اُمَّت باندې مشکل نۀ ګڼل نو دا به مې پۀ دوئي فرض کړي وو۔ [3]

1... مصنف ابن ابی شیبہ، کتاب الاوائل، باب اول ما فعل، جلد:8، صفحہ:338، حدیث:115 ملتقطاً۔
2... شُعَبُ الایمان، باب فی تعظیم القرآن، جلد:2، صفحہ:556، حدیث:2703۔
3... الزہد لابن المبارک، جزء:10، صفحہ:364 حدیث:1289۔

## په عبادت کښې شپې رونول د نیکانو خلقو طریقه ده

❁ د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: پهٔ تاسو باندې د شپې قیام لازم دے چې بے شکه دا ستاسو نه د مخکښینو خلقو طریقه وه، د شپې قیام الله پاک ته نزدې کول کوي، ګناه ختموي، د ګناهونو نه بچ کول کوي او د بدن نه مرضونه تښتوي-[1]

## د الله والؤ په عبادت کښې شپې رونول

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د شپې عبادت د عشق او محبت والؤ، اَولیاءُ الله طریقه ده، زمونږه اَسلافو، بزرګانِ دِین، د الله پاک نیکانو بندګانو به ټوله شپه پهٔ عبادت کښې تیروله ❁ حضرت حماد بن ابي سلیمان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: اِمامِ اعظم ابو حنیفه رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه به ټوله شپه ویخ وو او عبادت به یــې کولو-[2] ❁ حضرت ثابت بناني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه مسلسل 50 کاله په عبادت کښې شپې روڼې کړي وي، چې کله به د پیښمني وخت شو نو داسې دُعا به یــې کوله: اے الله پاکه! که تا پهٔ خپل مخلوق کښې چا ته پهٔ قبر کښې د نـمونځ ادا کولو شرف عطا کړے دے نو تهٔ یــې ما ته هم راعطا کړې- الله پاک د هغوئي دا دُعا قبوله کړه، د هغوئي د قبر مبارک نه به د تلاوت اواز راتللو-[3] ❁ حضرت رابعه بصریه رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْها 50 کاله داسې تیر کړل چې چرې یــې هم پهٔ تکیه باندې سر نهٔ وو کیښودے، هغې به ټوله شپه نـمونځ کولو او چې کله به د سحر وخت رانزدې شو نو د لږ سعت د پاره به هم پهٔ مصله باندې سملاستله، بیا به راویخه شوه او وئیل به یــې: اے نفسه! تهٔ به څومره اوده کیږې؟ او کله به راپاڅې؟[4] ❁ د عظیم تابعي حضرت

---

1 ...ترمذی، کتاب الدعوات، باب فی دعاء النبی، صفحه:811، حدیث:3549۔

2 ... حکایتیں اور نصیحتیں، صفحه:326۔

3 ... الله والوں کی باتیں، جلد:2، صفحه:489۔

4 ... صراط لجنان، پاره:19، سورهٔ فرقان، زیر آیت:64، جلد:7، صفحه:53 بتغیر قلیل ۔

اُویس قرني رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡہ عادت مبارک وو چې اُویس قَرني رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡہ به د شپې ودریدلو او وئیل به یې: نن د ودریدو شپه ده، بیا به یې ټوله شپه پۀ قیام کښې تیروله، پۀ دویمه شپه باندې به یې وئیل: نن د رکوع شپه ده، بیا به یې ټوله شپه پۀ رکوع کښې تیروله، پۀ دریمه شپه به یې وئیل: نن د سجدې شپه ده، بیا به یې ټوله شپه هُم پۀ سجده کښې تیروله۔ (1)

اللّٰه! اللّٰه! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا دي د اللّٰه پاک نیکان بندګان، دوئي به شپه ورځ عبادت ته ملا کلکه تړلې وه، آه! یو مونږ یُو، اوس د روژې میاشت ده، د عبادت او د ریاضت د سپرلي پۀ دې موسم کښې هم مونږه عبات نۀ کوو، آه! څومره داسې خلق دي د کومو چې د روژې د میاشت شپې پۀ فضولیاتو کښې تیریږي ❀ خلق د وخت تیرولو د پاره پۀ کوڅو کښې لوبې کوي ❀ څوک پۀ فضول خبرو کښې مصروفه وي، ❀ څوک د سوشل میډیا پۀ بے ضائع استعمال کښې شپه تیروي او ❀ څومره داسې نادانه هم دي د کومو چې د روژې د میاشتې شپې هم پۀ ګناهونو کښې تیریږي۔ آه! کاش چې زمونږه د روژې د میاشتې قدر نصیب شي! کاش چې مونږه هم د نیکانو خلقو پۀ شان زړۀ ولګوو او عبادت کوونکي جوړ شو۔

عبادت میں گزرے مری زندگانی | کرم ہو کرم یَاخدا! یَااِلٰہی!
بنادے مجھے نیک نیکوں کا صَدقہ | گناہوں سے ہر دم بچا یَااِلٰہی!
مِرے دل سے دنیا کی چاہت مٹا کر | کر اُلفت میں اپنی فنا یَااِلٰہی!

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د حضرت خدیجةُ الـکُبریٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا ذِکرِ خیر

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** پۀ لسم رَمَضَانُ الْمُبَارَک د حضرت خدیجةُ الـکُبریٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا ورځ هم ده، راځئ چې د مسلمانانو د خوږې مور جانې سیده خدیجه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا د

---

1… تفسیر روح البیان، پاره:21، سورۀ سجده، زیر آیت:16، جلد:7، صفحه:121۔

ذِکرِ خیر اوریدو سعادت حاصل کړو:

د مسلمانانو د خوړې مور جانې سیده خدیجه رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا نوم خدیجه، د والِدِ نوم خُوَیلِد او د مور بې بې نوم یې فاطِمه دے ❁ د هغې لقبونه طاهِره، سَیِّدۃُ قُرَیش، صِدِّیقَه او الکُبریٰ دي ❁ حضرت خدیجۃُ الکُبریٰ رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا په زنانؤ کښې د ټولو نه وړومبے اِسلام قبول کړو ❁ هغې خپل ټول دولت په حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې قربان کړو او خپل ټول عمر یې د حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کولو کښې تیر کړو۔

حضرت خدیجۃُ الکُبریٰ رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا تقریباً 25 کاله د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره تیر کړل او د نبوت د اِعلان په لسم کال د رَمَضَانُ المُبَارَک په میاشت کښې یې رحلت وفرمائیلو۔ د هغې مزار مبارک په جنَّتُ المعلیٰ کښې دے۔ د الله رَبُّ العزّت دې په هغې باندې رَحمت وي او د هغې په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب!          صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## مَدَني قاعِده (Madani Qaida) موبائل ایپلي کیشن

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د قرآنِ کریم فیضان عام کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي *I.T* ډیپارټمنټ یو موبائل ایپلي کیشن هم جاري کړے دے، د کوم نوم چې **مَدَني قاعِده** (*Madani Qaida*) دے۔ په دې ایپلي کیشن کښې مکمله مَدَني قاعِده او د دې آډیو (*Audio*) شامله کړے شوې ده یعني په دې ایپلي کیشن کښې چې تاسو د مَدَني قاعِدې په کوم حرف یا کوم لفظ باندې کلک (*Click*) کوئ، په آډیو (*Audio*) کښې به د هغې **تَلَفُّظ** چلیږي، داسې د دې ایپلي کیشن په مرستې سره په اسانۍ سره مَدَني قاعِده لوستل، د دې مشق (*Practice*) کول او صحیح مخارج او ضروري تجوید زده کیدے شي۔ دا ایپلي کیشن په خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ، بخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته

هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**راځئ چې د بيان پۀ اخره کښې يوه شرعي مسئله زده کړو:**

## صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا پۀ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پۀ ګوته کول)

**مسئله: د روژې نيولو د پاره د صُبحِ صادِق نه مخکښې مخکښې خوراک څښاک بندول ضروري دي-**

**وضاحت:** عام طور خلق پۀ غلط فهمۍ کښې وي چې ډير خلق پۀ اذان يا پۀ ګوګو [يعني سائرن] باندې پيشمنے او روژه ماتے کوي بلکې بعضې خلق خو د سحر د اذان پۀ وخت هم خوراک څښاک کوي، بعضې خلق د سحر د اذان پۀ شروع کيدو باندې پۀ خپل نزد **روژه بندوي**- دا سراسر غلط انداز دے، داسې به روژه بنده څۀ شي چې د سَره به شروع کيږي هُم نۀ-

**ياد ساتئ چې د پيشمني او د روژه ماتي تعلق د اذان سره نۀ دے بلکې د وخت سره دے**، څنګه چې د سحر وخت ختم شي، بيا هيڅ خوراک څښاک نشي کولے، که څۀ خوراک څښاک يـې وکړو، که هغۀ يو ګوټ اوبه ولې نۀ وي نو روژه به يې نۀ کيږي- تر څو پورې چې د سحر د اذان خبره ده نو د دې د پيشمني سره هيڅ تعلق نشته، د پيشمني وخت وړومبے ختميږي او د سحر اذان وروستو کولے شي-

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي موبائل ايپلي کيشن ***Prayer Times*** موجود دے، د هر يو ښار بيل بيل کليندړ هم دعوتِ اِسلامي جاري کړے دے، د دې پۀ مدد باندې د ګړۍ د وخت پۀ خيال ساتلو پيشمنے او روژه ماتے کوئ- اللّٰه پاک دې هر مسلمان ته عقلِ سليم عطا کړي او د صحيح معلوماتو کولو او د روژې او د نـمونځ وغيره عبادتونو پۀ صحيح توګه

د ادا کولو توفیق عطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم [1]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظیفه)

### یَا جَبَّارُ

څوک چې د یَا جَبَّارُ پرله پسې وِرد کوي نو د خپل غیبت نه به بچ کیږي، [2] اِنۡ شَآءَ اللہُ الۡکَرِیۡم!

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

[1] … فیضانِ رمضان، صفحه:111110 ملتقطاً۔

[2] … مدنی پنج سوره ، صفحه:247۔